دافغانستان اسلامي امارت
د ارشـــاد، حـــج او اوقافـــو وزارت
د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست
دجمعې ورځې د خطابت موضوع
او لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۲۱/ ذی القعده/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱۸ / ثور/۱۴۰۵هـ، ش

# د اسلام په لار کې د صحابهء کرامو د بې سارې قربانیو یو څو نمونې

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين ، والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين ، وعلى آله وصحبه الغر الميامين ، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد :قال الله سبحانه وتعالى:(مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً).الأحزاب:(۲۳)

**درنو حاضرینو او محترمو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

الله جل جلاله پر مونږ لوی احسان کړی دی، چې مونږ یې مسلمانان پیدا کړی یو .د اسلام مبارک دین د صحابه کرامو د قربانیو په نتیجه کې مونږ ته رارسیدلی دی، نو باید مونږ د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم څخه وروسته د صحابه کرامو رضی الله عنهم احسانات هیر نکړو او د هغوی سره محبت وساتو او هغوی په خپلو دعاګانو کې له یاده ونه باسو او خپلو اولادونو ته داسلام په لار کې د صحابه کرامو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین د قربانیو او سربښندنو ذکر وکړو. ددین اکابرین وایي: چې خپلو اولادونو ته د صحابه کرامو او سلفو علماوو تاریخ ورزده کړئ.

د اسلام په لاره کې صحابه کرامو دومره بې سارې قربانۍ ورکړې دي ، چې که چیرې مونږ د هغوی دقربانیو پیروي وکړو، نو ددنیا او د آخرت کامیابي به مو په برخه شي او اسلام به یو ځل بیا په نړۍ کې حاکم شي او مسلمانان به د کفارو له ظلمونو او غلامۍ څخه خلاص شي.

صحابه کرامو د اسلام په لاره کې هم خپل مالونه قرباني کړل او هم یې خپلې وینې د اسلام څخه نذرانه کړلې.

صحابه کرامو ددین او اسلام لپاره شپې شپې په وینښه تیرې کړي دي، خپل وطنونه او کورونه یې پریښي دي او د نړۍ کونج کونج ته یې پیاده او په سپرلیو سفرونه کړي دي، داسې سفرونه چې بیا خپل کور او وطن ته نه دې ګرځیدلي، مګر ډیر کم او د الله تعالی په لاره کې شهیدان شوي دي او قبرونه یې دځمکې په مختلفو قارو کې موجوددي.

نن سبا چې په نړۍ کې داسلام مبارک دين موجود دی، دا د صحابه کرامو رضي الله عنهم د قربانيو نتيجه ده ، صحابه کرامو خپل اهل او عيال ، مال او دولت، ثروت او تجارت، جايدادونه او باغونه داسلام څخه قربان کړل او د جهاد او د اسلامي دعوت لپاره د خپلو کورونو څخه ووتل او په نړۍ کې خپاره شول او خپل عمرونه يې د الله تعالی په لاره کې وقف کړل.

مونږ او تاسو وينو چې ځينې صحابه کرام په کابل کې دشهداء صالحينو په قبرستان کې دفن شوي دي او ځينې نور په عراق کې او په شام کې او په مصر او مغرب کې دفن شوي دي او حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه خپلو ملګرو ته وصيت وکړ ، چې ما د ځان سره بوزئ او په کوم ځای کې چې تاسو د روميانو په مقابل کې صفونه وتړل، نو ما د خپلو قدمونو په ځای کې ددښمن په لومړي خط کې دفن کړئ. المعجم الكبير للطبراني (٤/ ١٧١)

داچې صحابه کرامو ددين او اسلام په لاره کې بې ساري قربانۍ ورکړي دي، الله تعالی په قرآن کريم کې او رسول الله صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې د صحابه کرامو بې شميره فضائل بيان کړی دي چې د هغوی په سپيڅلتيا دلالت کوي او د ځمکې په مخ د پيغمبرانو او رسولانو څخه وروسته غوره او بهتره خلک ؤ او الله تعالی په ټولو امتونو کې د خپل پيغمبر د ملګرتيا لپاره غوره کړي ؤ.

صحابه کرامو داسلام په لاره کې بې شميره قربانۍ ورکړي دي ، چې د دغو قربانيو يو څو نمونې په لاندې توګه دي:

**۱-د حضرت عبدالله بن جحش رضي الله عنه قرباني او د شهادت آرزو:** د اُحد د غزا په سهار کې عبدالله بن جحش رضي الله عنه سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه ته وويل: ای سعده! زه دعاء کوم او ته وربانديې آمين ووايه، بيايې وويل: ای الله ! په غزوه کې زما سره د مشرکينو څخه داسې کس مخامخ کړه، چې ډير قوي وي او په جنګ کې هم ډير مضبوط وي؛ ترڅو زه ورسره وجنګيږم او هغه ما ووهي او زه هغه ووهم او بيا زه د هغه دلاسه شهيد شم او زما پوزه او غوږونه قطع کړي او کله چې په قيامت کې زه له تاسره مخ شم او ته راته ووايې ، چې پوزه او غوږونه دې په څه کې قطع شوي دي ؟ او زه درته ووايم ای ربه ! ستا په لار کې مې پوزه او غوږونه قطع شوي دي.حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه وايې: د ورځې په آخر کې زه په حضرت عبدالله بن جحش رضي الله عنه تير شوم ومې ليده چې شهيد شوی ؤ او پوزه او غوږونه يې قطع شوي ؤ.الاكتفاء بما تضمنه من مغازي رسول الله والثلاثة الخلفاء،للكلاعى (٢/ ٧٢)،الروض الأنف (٣/ ٢٨٤)

**۲- په غزوه احد کې د حضرت انس بن نضر رضي الله عنه ميړانه او دهغه د جسم څه د پاسه اتيا(۸۰) زخمونه:**

د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې زما تره انس بن نضر رضي الله عنه د بدر له غزا څخه غائب ؤ ، نبي عليه السلام ته يې وويل : ای دالله رسوله! زه د هغه جنګ څخه غائب وم چې تا د لومړي ځل لپاره د مشرکينو سره وکړ، كه چيرې زه الله تعالی بل کوم جنګ ته حاضر کړم ، نو الله تعالی به ويني چې زه به څنګه جګړه کوم.کله چې د اُحد غزوه راغله او مسلمانان شکست سره مخ شول. نو حضرت انس بن نضر رضي الله عنه وويل: ای الله ! زه تاته عذر وړاندې کوم د هغه کار په اړه چې دغو خلکو وکړ يعنې ملګرو يې وکړ چې جنګ ته يې شاه کړه او د غشو ويشتونکی ځای يې پريښود. او بيزاري کوم له هغه څه نه چې دغو خلکو وکړل يعنې د مشرکينو څخه هم بيزاره يم. بيا مخکې لاړ ،نو سعد بن معاذ رضي الله عنه ورسره مخامخ شو، ورته يې وويل: ای سعدبن معاذه! قسم په رب د نضر چې زه د جنت بوی حس کوم د اُحد مقام سره.

حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه وايي  انس بن مالک رضي الله وايې چې مونږ وموندلو او د هغه په جسم کې څه دپاسه (۸۰) اتيا زخمونه او ټپونه موجود ؤ ، څه زخمونه د تورې ؤ او څه زخمونه د نيزې ؤ او څه زخمونه د غشو ؤ .مونږ په داسې حال کې وموندلو چې شهيد شوی ؤ او مشرکانو مثله کړی ؤ، بل هيچا نه پيژندلو يواځې د هغه خور د ګوتو له سرونو څخه وپيژندلو. انس رضي الله عنه فرمايي چې مونږ يقين کولو چې دا آيت {مِنْ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ} د هغه په هکله او د هغه په شان د نورو صحابه کرامو په اړه نازل شوی دی. صحيح البخاري ت (۷/ ۲۲۳)

**۳-د حضرت ابو دُجانه رضي الله عنه د أحد په غزا کې خپله شا غشو ته نيولې وه.**

په غزوه احد کې چې کله کافرانو په نبي عليه السلام باندې د هر طرف نه د غشو او تورو ګوزارونه شروع کړل، حضرت ابو دُجانه رضي الله عنه چې کله وليدل، چې په نبي عليه السلام باندې د هر طرف نه د غشو باران دی، نو ده اراده وکړه چې د پيغبر عليه السلام مخې ته ودريږي ، ددې د پاره چې نبي عليه السلام د غشو نه بچ شي. اوس که غشو طرف ته خپله سينه مخامخ کوي نو نبي اکرم صلى الله عليه وسلم طرف ته يې شاکيږي ، او دا يې هم بې ادبي او د عشق خلاف ګڼله ، لهذا حضور صلى الله عليه وسلم طرف ته يي خپله سينه و ګرځوله او خپله شا يې د غشو طرف ته و ګرځوله؛ نو غشي به راتلل او د ده په ملا باندې به لګيدل . سيرة ابن هشام (۲/ ٦٨)

بيا ابو دجانه رضي الله عنه د يمامه په جګړه کې شهيد شو. وعن أنس بن مالك قال : رمى أبو دجانة بنفسه يوم اليمامة إلى داخل الحديقة ، فانكسرت رجله ، فقاتل وهو مكسور الرجل حتى قتل -رضي الله عنه . مشاهير الصحابة رضي الله عنهم (ص: ١٦٨)

ژباړه: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې ابو دُجانه د يمامه په جګړه کې ځان د باغ داخل ته واچولو ، نو پښه يې ماته شوه ، بيايې په ماته پښه جګړه وکړله تر دې پورې چې شهيد شو.

**۴-په غزوه أُحد کې د حضرت مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ لپاره د کفن نشتوالی:** کله چې د أُحد په غزوه کې حضرت مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍرضي الله عنه شهيد شو، نو صحابه کرام د هغه د کفن د کمبود سره مواجه شول او دومره کفن نه ؤ چې حضرت مصعب بن عمير رضي الله عنه په کې کفن کړي.په حديث شريف کې راځي: عن خَبَّابٍ:«مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ. قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ فَلَمْ يُوجَدْ لَهُ شَيْءٌ يُكَفَّنُ فِيهِ إِلاَّ نَمِرَةٌ فَكُنَّا إِذَا وَضَعْنَاهَا عَلَى رَأْسِهِ خَرَجَتْ رِجْلاَهُ وَإِذَا وَضَعْنَاهَا عَلَى رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَأْسُهُ.فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « ضَعُوهَا مِمَّا يَلِى رَأْسَهُ وَاجْعَلُوا عَلَى رِجْلَيْهِ الإِذْخِرَ ». صحيح مسلم (۳/ ٤٨) ژباړه: د خباب رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې مصعب بن عمير رضي الله عنه شهيد شو داحد په ورځ ، نو نه پيداکيده د هغه لپاره څه شی، چې کفن ورکړل شي هغه لره په کې ؛ مګر يو څادر ؤ له وړيو ، نو مونږ به چې هغه څادر دده په سر واچولو، نو پښې به يې ورڅخه راووتلې او کله به مو چې څادر دهغه په پښو واچولو ، نو سر به ورڅخه بيرون شو. بيا نبی عليه السلام وفرمايل: واچوئ څادر سر طرف ته او واچوئ په پښو يې سرګړې.

په ځينو وختونو کې به په غزواتو کې د يوې کورنۍ دوه درې او له دې هم زيات کسان په شهادت رسيدل، خود صحابه کرامو عزم به قوي ؤ. په يو روايت کې راځي کله چې نبي عليه السلام له أُحد څخه راستون شو ، نو حمنه بنت جحش رضي الله عنها ورسره مخامخ شوه ، کله چې د صحابه کرامو سره مخ شوه ، نو صحابه کرامو ورته د هغې د ورور عبدالله بن جحش رضي الله عنه د شهادت خبر ورکړ ، نو هغې انا لله وانا اليه راجعون وويل او استغفرالله يې وويله. بيا ورته د ماما حمزه بن عبدالمطلب رضي الله عنه د شهادت خبر ورکړل شو، نو هغې استرجاع وويله او استغفار يې وويله، بيا ورته د خاوند مصعب بن عمير رضي الله د

شهادت خبر ورکړل شو، نو په زوره يې چيغه وويستله او دځان لپاره يې د هلاکت غوښتنه وکړه.رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:بيشـکه خاوند لوی مقام لري، ځکه چې حمنه رضي الله عنها په ورور او ماما باندې يې صـبر وکړ، خو په خاوند يې آواز پورته شو.الاكتفاء بما تضمنه من مغازي رسول الله(٢ /٧٣)

**٥- د أُحد په غزوه کې د ام عماره (نسيبه بن کعب) رضي الله عنها ميړانه او د هغې زخمي کيدل:**

د اسـلام په لار کې يواځې سـړو خپل ځانونه نه دي قرباني کړي ، بلکې صـحابياتو او زنانه هم د خپل توان په اندازه په جهاد کې برخه اخيسـتې ده. چې د هغو صـحابياتو له جملې څخه يوه هم حضرـت ام عماره بنت کعب رضي الله عنها ده چې خپل نوم يې نسيبه بنت کعب ؤ .

ام عماره د خپـل خـاونـد غزيـة بن عمرو او خپل زوی سره د أُحد په غزوه کې برخه واخيسـتله . ام عماره رضي الله عنها د أُحد د غزا په پيل کې يې يواځې غازيانو ته اوبه ورکولې او کله چې مسـلمانانو شـکسـت وخوړلو ام عماره رضي الله عنها ځان د رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم خواته ورسـولو او په جګړه يې لاس پورې کړ. ام عماره رضي الله عنها په جګړه کې د برخې اخيسـتلو په اړه وايي: زه د يو مُشـک سره د أُحد د غزا په سـهار د أُحد ځای ته لاړم او غوښـتل مې چې صـحابه کرامو ته اوبه ورکړم او د زخميانو زخمونه وتړم. کله مې چې وليدل چې صحابه کرامو جګړې ته شاه کړه او شکسـت يې وخوړلو او د رسـول الله صلی الله سره په شـمير يو څو تنه پاتې شـول او نورو جګړې ته شـاه ګړه، نو ما ځان د رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم خواته ورسـولو او جګړه مې شروع وکړه او له رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم څخه به مې په توره سره دفاع کوله او په غشـو به مې ويشـتل کول، تردې پورې چې دولس ځايه زخمي شـوم. ځينې زخمونه د نيزو ؤ او ځينې زخمونه د تورو ؤ او په ولي کې ډير ژور زخمي شـوم، چې وينه يې نه دريدله.د ام عماره لمسی ضمرة بن سـعيد المازني وايي چې ما د رسول الله صـلی الله عليه وسـلم څخه واوريدل چې داسـې وفرمايل: نن ورځ د نسـيبه بنت کعب ميړانه د فلاني او فلاني څخه غوره وه. کله چې جګړه خلاصـه شـوه او خلک کورونو ته وګرځيدل ، نبي عليه السـلام حضرـت عبد الله بن کعب مازني د حضرـت ام عماره د پوښـتنې لپاره ورولیږه ، حضرـت عبدالله بن کعب رضي الله عنه واپس نبي عليه السلام ته دام عماره د ښـه والي احوال راوړلو او نبی عليه السلام ډير خوشـحاله شـو. د ام عماره رضي الله عنها زوی عبدالله بن زيد بن عاصـم وايې، چې ما او زما پلار او زما مور مونږه له رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم څخه دفاع کوله چې په دې وخت کې زما مور زخمي شـوه. نبي عليه السـلام ماته وفرمايل: چې د مور غم دې وخوره او زخم يې وتړه . الله تعالی دې په تاسـې کې برکت واچوي ای اهل بيتو . زما مور نبي عليه السـلام ته وويل:يارسـول الله صـلی اللـه عليـه وسـلم! د اللـه تعـالی څخه وغواړه چې مونږ له تاسره په جنت کې ملګري کړي .نبی عليه السـلام وفرمايل: ای الله ! وګرځوه دوی زما سره ملګري په جنت کې. الطبقات الكبرى لابن سعد (٨/ ٤١٢ـ٤١٥)، الرحيق المختوم (ص: ٢٤١)

**٦-د حضرت خُبيب بن عدي انصاري رضي الله د جسم څخه په ژوندونې د غوښو قطع کولو واقعه:**

د اسـلام لپاره يواځې مشرـانو قرباني نه ده ورکړې ، بلکې ځوانانو هم د اسـلام په لار کې بې سـارې قربانۍ ورکړي دي، چې د هغوی د جسم څخه په ژوندونې غوښې قطع شوي دي.

حضرـت خُبيب بن عـدي رضي الله عنه چې ځوان صـحابي ؤ او د أُحد په غزا کې يې حارث په نامه سـړی وژلی ؤ، نبي عليه السـلام د ملګرو سره د يو کار لپاره وليږه او په نتيجه کې حضرـت خُبيب رضي الله د ملګرو سره ونيول شـو او نيوونکو حضرـت خُبيب رضي الله عنه په قريشـو خرڅ کړلو . قريشـو به ورته ډول ډول عذابونه ورکول، آن تردې چې د هغه د جسـم څخه به يې غوښـې هم قطع کولې. بيا يې تنعيم ته بوتللو او د ونې سـتې ته يې وخيژولو او قريشـو ورته يې وويل: ته څه فکر کوې چې سـتا په ځای محمد (صـلی الله عليه وسـلم) وايې؟ حضرـت خُبيب رضي الله عنه ورته وويل چې زه دا خوښـه نه ګنم چې زه دې

ژوندی یم او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په پښه کې دې غنه لاړه شي. بیايې قریشو ته وویل چې ما پریږدئ چې دوه رکعته لمونځ وکړم هغه دوه رکعته لمونځ وکړ او دا شعر يې وويلو:

وَلَسْتُ أُبَالِي حِينَ أُقْتَلُ مُسْلِمًا* عَلَى أَيِّ شِقٍّ كَانَ لِلَّهِ مَصْرَعِي*
وَذَلِكَ فِي ذَاتِ الْإِلَهِ وَإِنْ يَشَأْ * يُبَارِكْ عَلَى أَوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ *

ژباړه: نه یم زه چې پروا وکړم کله چې زه وژل کیږم او زه مسلمان یم. په هر طرف چې وي الله تعالی لره ولیدل زما او دا (مرګ زما) د رضا د الله د ذات په لاره کې وي، که چیرې د هغه خوښه شي،نو برکت به واچوي په وصل کولو د جسم زما کې چې ټوټه شوی وي.

بیا عقبه بن الحارث ور پاڅیدو او هغه يې شهید کړ . د بنو الحارث قبیلې قریشو ته وویل چې سر يې قطع کړئ او مونږ ته يې راکړئ، خو الله تعالی د غومبسو یو تور لښکر د هغه د ساتنې لپاره را ولیږه او هغه کسان د هغه د جسم څخه د ټوټې په غوڅولو قادر نشو.

یوه ورځ د حمص خلکو حضرت عمررضي الله عنه ته د حمص د والي سعید بن عامر رضي الله عنه څخه شکایت وکړ او د شکایت یوه خبره دا وه چې سعیدبن عامر رضي الله عنه په کال کې یوه ورځ بې هوشه کیږي. حضرت عمررضي الله عنه د حضرت سعید رضي الله عنه څخه ددې خبرې په اړه پوښتنه وکړه. حضرت سعید بن عامر رضي الله عنه ورته وویل: کله چې زه د حضرت خُبیب بن عدي رضي الله د شهادت مراسمو ته حاضر شوم او وه مې لیدل چې قریشو د هغه د بدن څخه غوښې قطع کړې وې او بیایې د ونې ستنې ته پورته کړ، نو کله چې ماته هغه صحنه را یاده شي، نو پر ما بې هوشي راشي. صحیح البخاري ت (١٨/ ٤١٥) مختصر تاريخ دمشق (ص: ١٣١٠) معرفة الصحابة لأبي نعيم (١/ ٩٨٨)

**٧- د ذاتُ الرِّقاع په غزوه کې د صحابه کرامو د قربانیو نمونې:**

د نجد په دښتو کې ځینې قبائل اوسیدل او وخت ناوخت به يې په مسلمانانو او د مدینې منورې په شا او خوا اوسیدونکو باندې به يې حملې کولې او له خلکو به يې مالونه لوټل . دوی مختلفې قبیلې وې او په یوځای کې نه اوسیدل . کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې او د خیبر د خلکو له شر څخه مطمئن شو ، نو ددغو قبائلو د ځپلو لپاره يې د مدینې منورې څخه يې د څلورو سوو یا اووه سوو اصحاب کرامو په ملتیا حرکت وکړ.

دغه غزوې ته ذات الرِّقاع ځکه وايي چې الرقاع د رقعة رجمع ده او رقعة چیرړې ته ویل کیږي. په دغه غزوه کې د صحابه کرامو سره سپرلۍ کمې وې او پیاده زیات مزل له وجې نه د صحابه کرامو پښې زخمي شوې او د ځینو صحابه کرامو د پښو نوکونه ولویدل، صحابه کرامو خپلې پښې په چیرړو وتړلې ، نو ځکه ورته ذات الرقاع وايي.

په یو روایت کې داسې راځي:عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ:« خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ وَنَحْنُ سِتَّةُ نَفَرٍ بَيْنَنَا بَعِيرٌ نَعْتَقِبُهُ فَنَقِبَتْ أَقْدَامُنَا وَنَقِبَتْ قَدَمَايَ وَسَقَطَتْ أَظْفَارِي وَكُنَّا نَلُفُّ عَلَى أَرْجُلِنَا الْخِرَقَ فَسُمِّيَتْ غَزْوَةَ ذَاتِ الرِّقَاعِ لِمَا كُنَّا نَعْصِبُ مِنْ الْخِرَقِ عَلَى أَرْجُلِنَا» صحيح البخاري ت (١٠ /١٨٠) ،صحيح مسلم (٥ /٢٠٠)

ژباړه: د حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وايي چې ووتلو مونږ د نبي علیه السلام سره په یوه غزوه کې او مونږ شپږ ملګري ؤ او زمونږ سره یو اوښ ؤ ، نو مونږ به په نوبت ورباندې سپریدلو، نو زمونږ د پښو تلي زخمي شول

او زما هم د دواړو پښو تلي زخمي شول او زما د پښو نوکان هم ولويدل او مونږ به له خپلو پښو څخه ټوټې تړلې ، نو ځکه دغه غزوه په ذات الرقاع باندې ونومول شوه ، ددې وجې نه چې مونږ به تړلې چیرړې له پښو خپلو باندې.

**۸-د مؤته په غزوه کې د صحابه کرامو قرباني:** د هجرت په اتم کال رسول الله صلی الله علیه وسلم د زید بن حارثه په مشرۍ په شام کې د بلقاء مقام ته د رومیانو سره د جګړې لپاره د درې زرو صحابه کرامو يو لوی لښکر وواستولو او صحابه کرامو ته يې وويل: چې که چیرې زید بن حارثه شهید شو، نو ستاسو امیر به جعفر بن ابي طالب وي او که چیرې جعفر بن ابي طالب شهید شو، نو ستاسو امیر به عبدالله بن رواحه وي. السيرة النبوية لابن كثير (۳/ ٤٥٥)

کله چې صحابه کرام شام ته ورسیدل ، نو دوی ته خبر راغی چې هِرَقْلَ د سل زره لښکر سره د بلقاء ځای ته راغلی دی.

صحابه کرامو په خپلو منځونو کې مشوره وکړه چې باید رسول الله صلی الله علیه وسلم د دښمن د تعداد څخه خبر کړو ، ترڅو مونږ ته کومکي لښکر راولیږي ، خو عبد الله بن رواحه رضي الله عنه وويل: ای خلکو! مونږ ددښمن سره په وسائلو جګړه نه کوو ، بلکې مونږ د هغوی سره د ایمان په قوت جنګ کوو او مونږ دلته ددوه خبرو لپاره راغلي يو چې يا به مو فتحه په نصیب شي او يا به مو شهادت په برخه شي او دا دواړه کامیابي ده.

جنګ شروع شو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس تړل شوی بیرغ د زید بن حارثه رضي الله عنه په لاس کې ؤ او جګړه يې کوله، تر دې پورې چې زید بن حارثه رضي الله عنه د شهادت جام وڅښلو او بیرغ جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه په لاس کې واخیستلو او جګړه يې کوله هغه هم شهید شو او بیا بیرغ عبدالله بن رواحه رضي الله عنه په لاس کې واخیستلو او جګړې ته يې دوام ورکړ، تر دې پورې چې هغه هم د شهادت جام وڅښلو او بیا بیرغ خالد بن ولید رضي الله عنه په لاس کې واخیستلو او الله تعالی مسلمانانو ته فتح د خالد بن ولید په قیادت کې په نصیب کړه. سنن النسائي الكبرى (٥/ ١٨٠)

د صحيح بخاري په روايت کې راځي: عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَى زَيْدًا وَجَعْفَرًا وَابْنَ رَوَاحَةَ لِلنَّاسِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَهُمْ خَبَرُهُمْ فَقَالَ أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ ابْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ حَتَّى أَخَذَ الرَّايَةَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللَّهِ حَتَّى فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ. صحيح البخاري ت (١٠/ ٣٢٢)

ژباړه: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وايي چې بیشکه نبي علیه السلام د زید بن حارثه او جعفر بن ابی طالب او د عبدالله بن رواحه رضي الله عنهم دشهادت خبر خلکو ته ورکړ مخکې له هغې چې د هغوی د شهادت خبر مسلمانانو ته راورسیږي او نبي علیه السلام وفرمایل: بیرغ زیدبن حارثه په لاس کې ونیولو ، نو هغه شهید شو، بیا بیرغ جعفر رضي الله عنه په لاس کې ونیولو ، نو هغه هم شهید شو، بیا بیرغ عبدالله بن رواحه په لاس کې ونیولو ، نو هغه هم شهید شو او د نبي علیه السلام د سترګو څخه اوښکې توئیدلې، آن تردې پورې چې بیرغ د الله د تورو څخه یوې تورې ( خالد بن ولید) په لاس کې ونیولو او الله تعالی د هغه په لاس مسلمانانو ته فتحه په برخه کړه .(او د هرقل سل زریز لښکر شکست وخوړولو).

په بل روایت کې راځي چې حضرت جعفر رضي الله عنه لومړی بیرغ په ښي لاس کې نیولی ؤ ، نو هغه لاس يې قطع شو، بیا يې بیرغ په چپ لاس کې ونیولو هغه لاس يې هم قطع شو ، بیا يې بیرغ په سینه پورې ونیولو، ترڅو چې شهید کړل شو. فتح الباري (٧/ ٥١٥)

په یو بل روایت کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قال :كُنْتُ فِيهِمْ فِي تِلْكَ الْغَزْوَةِ فَالْتَمَسْنَا جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَوَجَدْنَاهُ فِي الْقَتْلَى وَوَجَدْنَا مَا فِي جَسَدِهِ بِضْعًا وَتِسْعِينَ مِنْ طَعْنَةٍ وَرَمْيَةٍ).صحيح البخاري ت (١٠/ ٣٢١)

ژباړه: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې زه هم د مؤته غزوه کې وم، مونږ ولټولو جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه ،نو پيدا مو کړ په مړو کې او ومو ليدل د هغه په جسم کې څه دپاسه نوي (زخمونه) د نيزې زخمونه او د غشو زخمونه.

په روايت کې راځي:عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ يَقُولُ لَقَدْ انْقَطَعَتْ فِي يَدِي يَوْمَ مُؤْتَةَ تِسْعَةُ أَسْيَافٍ فَمَا بَقِيَ فِي يَدِي إِلَّا صَفِيحَةٌ يَمَانِيَةٌ). صحيح البخاري ت (١٠/ ٣٢٠)

ژباړه: د قيس بن ابې حازم څخه روايت دی ، هغه وايي چې ما د خالد بن وليد څخه واوريدل چې وه يې ويل: زما په لاس کې د مؤته په غزا کې نهه تورې ماتې شوې او پاتې نشو زما په لاس کې، مګر يوه پلنه يمانۍ توره.

**٩-د تبوک دسختۍ په غزوه کې دصحابه کرامو قرباني:**

د تبوک دغزا په هکله الله تعالى فرمايلي دي:(لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ).التوبة: (١١٧)ترجمه:خامخا په تحقيق ر جوع کړې ده الله په رحمت پرنبي باندې او پر مهاجرينو او انصارو هغه کسانو چې متابعت کړی وو دوی د نبي د تنګسې په وخت کې .

امام مجاهد وايي دا آيت د تبوک د غزوې په هکله نازل شوی دی او د سختۍ ساعت ورته ځکه ويل کيږي چې دغه غزا ته صحابه کرام په داسې حال کې ووتل چې دغه کال د قحطۍ کال ؤ او ګرمي هم زياته وه او ولږه هم زياته وه او د سفر توښه هم له صحابه کرامو سره کمه وه. امام قتاده وايي چې صحابه کرام شام ته د تبوک غزا ته د ګرمۍ په سرو څپو کې ووتل او صحابه کرامو ته په کې ډيره سختي ورسيدله ، د خوراکي شيانو دومره کمی ؤ چې دوه کسانو به د خرما دانه په خپل منځ کې دوه ځايه کوله او بيا به يې خوړله او ځينې کسانو به په خپلو منځونو کې د خرما دانه ګرځوله او يو کس به وچوپله بيابه يې ور پسې اوبه وڅښلې بيا به يې بل ته ورکړه هغه به هم داسې وکړل چې د خرما دانه به يې وچوپله او اوبه به يې ورپسې وڅښلې. ابن کثير (٢/ ٤٨٢)

تبوک ته د روانيدو پر وخت نبي عليه السلام وفرمايل:(من جهز جيش العسرة فله الجنة فجهزه عثمان بن عفان رضي الله عنه بألف جمل وألف دينار ).ژباړه: چاچې سختۍ کې تلونکی لښکر تجهيز کړ، نو هغه لره جنت دی. نو حضرت عثمان رضي الله عنه د تبوک لښکر تجهيز کړ په زرو اوښانو او زر دينارو سره.

په يو روايت کې راځي چې نبي عليه السلام دغه دينارونه په لاس کې اړول را اړول او بيايې وفرمايل: او نشته عثمان رضی الله عنه ته ددې کار څخه وروسته د بل کار حاجت.

نبي عليه السلام د پنجشنبې په ورځ د تبوک په لورې د ديرش زره مجاهدينو سره حرکت وکړ په داسې حال کې چې د سپرليو زيات کمبود ؤ او ١٨ اتلس کسان به په يوه اوښه پسې ؤ . يعنې په نوبت نوبت به وربانديې سپريدل.

او ولږه او تنده دومره زياته وه چې صحابه کرامو به د ونو پاڼې خوړلې، تر دې پورې چې د هغوی شونډې وپړسيدلې او د تندې په وجه صحابه کرامو خپل اوښان ذبح کړل او د اوښانو په لرو کې چې کومې اوبه وې هغه يې وڅښلې . الرحيق المختوم (ص: ٤٢٥)

امام احمد رحمه الله په خپل روايت سره ددې آيت په تفسير کې ليکلي دي:( الذين اتبعوه في ساعة العسرة) صحابه کرام غزوه تبوک ته ووتل، دوه کسان يا درې کسان په يو اوښ په نوبت سره سپريدل او په سخته ګرمۍ کې ووتل او په لاره کې تږې شو تر دې پورې چې خپل اوښان به يې ذبح کول او د اوښانو په لريو کې اوبه به څښلې، نو په دغه سفر کې هم سختي د ګرمۍ وه او هم سختي د ولږې وه او هم سختي د خوراک وه او سختي د سپرليو وه.

حضرت عمرفاروق رضي الله عنه څخه پوښتنه وشوه چې د (ساعة العسرة) په باره کې يو څه ووايه. حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل: مونږ تبوک ته ووتلو په سوزوونکې ګرمۍ کې ، نو مونږ په يو ځای کې واړول په داسې حال چې مونږ ته سخته تنده رسيدلې وه ، تر دې پورې چې مونږ ګمان وکړ ژر دی چې زموږ ورميږونه به قطع کړل شي او زمونږڅخه به يو کس لاړ چې کوم کاروان پيدا کړي ،نو هغه به بيرته نه راتللو مونږ به ګمان وکړ چې د هغه ور ميږ به قطع شوی وي او يو کس به خپل اوښ ذبح کړ او د هغه خاشنه به يې وذبيښل او هغه اوبه به يې وڅښلې او نور به يې په خپل جيګر باندې کيښودلو. البداية والنهاية (٩/٥-١٠)

**١٠-د يمامه(حديقة الموت) جګړه او د البراء بن مالک استشهادي اراده:**

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې د صحابه کرامو شاهکاري او قرباني داوه چې هغوی د اسلام په لار کې جهاد ته ملا تړلې وه ، خو کله چې نبي عليه السلام وفات شو، نو بيا داسلام ساتل او داسلام څخه دفاع د صحابه کرامو لپاره لوی ازميښت ؤ. د رسول الله صلی الله عليه وسلم له وفات څخه وروسته زياتې فتنې صحابه کرامو ته پيښې شوې، چې يوه فتنه داوه چې ځينو کسانو د پيغمبرۍ دعوی وکړه چې مُسيلمة الكذاب هم د پيغمبرۍ دعوی وکړه.

صحابه کرامو ددوی د وژلو لپاره ملا وتړله او يمامه په مقام کې يو باغ ؤ چې دنګ دنګ ديوالونه ورڅخه را چاپيره ؤ . کله چې صحابه کرام په مسيلمة الكذاب پسې ورغلل ، نو مسيلمة الكذاب سره د خپلو ملګرو په هغه باغ کې چې قوي او دنګ دنګ ديوالونه يې لرل پناه واخيستله او دروازه يې په ځان پسې بنده کړه.

کله چې صحابه کرام د دغه قلعه څخه چاپيره شو، نو د ورننوتلو لاره نه وه. په دې وخت کې البراء بن مالک رضي الله عنه نورو صحابه کرامو ته وويل: تاسې ما په ډالونو کې اوچت کړئ او باغ ته مې واچوئ، زه به يا دروازه خلاصه کړم او يا به ورسره وجنګيږم ترڅو شهيد شم. صحابه کرامو چې بله چاره يې نه لرله ، حضرت البراء بن مالک رضي الله عنه يې په ډالونو کې کينولو او بيايې په نيزو سره دغه ډال اوچت کړ او براء بن مالک رضي الله عنه يې دقلعې داخل ته ور واچولو. کله چې هغوی براء بن مالک وليده ورباندې راټول شول او براء بن مالک رضي الله ورسره سخته جګړه وکړه او دروازه يې خلاصه کړه مسلمانان قلعه ته ورداخل شول او په باغ کې او قلعه کې چې څومره د مسيلمه ملګري ؤ ، ټول يې ووژل او مسيملة الكذاب يې هم ووژلو . داچې په دغه قلعه کې زيات مرتدين ووژل شول، نو حديقة الموت نوم ورته ورکړل شو. تاريخ الأمم والرسل والملوك- الطبري (٢/ ٢٨١)، البدء والتاريخ (ص: ٣٠٦)

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**